# د ملکي خدمتونو د بستونو د دندو لایحه

**د بست په اړه معلومات:**

| | |
|---|---|
| داعلان شوي پست ګڼه: | |
| د دندې عنوان: | ډرېور |
| بست: | ۷ |
| وزارت یا اداره: | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون |
| اړونده څانګه: | د کمېسیون د دارالانشا ریاست |
| د پست ځای: | کابل (مرکز) |
| د بستونو شمېر: | ٦ |
| راپور ورکوونکی: | د ترانسپورټ تنظیم مدیریت ته |
| راپور اخیستونکی: | نه لري |
| کوډ: | |
| د کتنې نېټه: | ۱۳۹۸/۱۱/۳ |
| | |
| | |

.........................................................................................................................................................

.................................................................................

**د دندې موخه:** دترانسپورټي لپاره د ترافیکی قوانینو په رڼا کې د ډرېورۍ چارو پرمخ وړل

.........................................................................................................................................................

.................................................................................

**تخصصي دندې :**

- ✓ **د ورکړل شوي سجل په رڼا کې د وسایطو له صحت څخه ډاډ ترلاسه کول؛**
- ✓ **پر ټاکل شوي وخت د کارکوونکو وړلو او راوړلو او د پالیسي په رڼا کې له وسایطو مسوولانه او معقوله ګټه اخیستنه؛**
- ✓ **د وسایطو له جوړښت څخه د ډاډمنتیا په پار د وسایطو د ټولو اجزاوو حفظ او ساتنه؛**
- ✓ **د ترافیکي پېښو مخنیو لپاره د وسایطو څخه سمه ګټه اخیستنه او د ډرېوري په وخت کې د ټولو ترافیکي قوانینو په پام کې نیول؛**
- ✓ **د اضافي لګښت څخه مخنیوی او له ټاکل شوي مسیر څخه بل مسیر ته نه تګ، په رسمي وخت کې له وسایطو څخه شخصي ګټه نه اخیستنه؛**
- ✓ **د اړوندو سندونو لکه: جواز سیر، لایسنس، د ګرځېدو کتابچه درلودل تر څو د اړتیا په صورت کې ارایه شي؛**
- ✓ **د حساب تصفیه کولو لپاره د واسایطو د نویو او تبدیل شویو پرزو داغمه تحویلول؛**
- ✓ **د واسطې د پاکوالی تامین؛ ترڅو کارکوونکي په ناروغی اخته نشي؛**
- ✓ **د رسمي دندې پای ته رسېدو وروسته په ټاکل شوي ځای کې د واسطې پارک کول ترڅو د ساتنې مسوولیت یې له غاړې لرې کړی وي؛**
- ✓ **د اړوندې تخنیکي څانګې تجهیزاتو او وسایلو ساتنه؛**

**مدیریتي دندې:**

- ✓ **( نلري ).**

**د همغږۍ دندې:**

- ✓ **د اړوند آمرینو د خبرولو لپاره، د خپلو کړنو په هکله شفاهي راپور ورکول؛**

- ✓ د واسطې فعالوالي او بشپړتیا په پار د ترانسپورټ مدیریت ته د واسطې د اړتیاوو لکه روغنیاتو، پرزو او داسې نورو راپور ورکول؛
- ✓ د قانون او مقررو په رڼا کې د هغو ټولو کړنو تر سره کول چې د اړوندو مقاماتو لخوا د ادارې موخو لپاره ورسپارل شوي وي.

---

**د ګمارنې شرطونه (د زده کړو کچه او کاري تجربه):**

**د دندو دغه لایحه د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون ۷ او ۳۴ موادو په پام کې نیولو سره د لاندې شرطونو او معیارونو په لرلو جوړه شوې.**

### تحصیلي رشته:

۱. دغه بست ته د تحصیلي سند لرل اړین نه دي: (اړتیا نشته)؛

### کاري تجربه:

۲. لږ تر لږه د دریوري یو کلنه کاري تجربه ولري .

**اړین سندونه :**

۳. د دریوري رسمي جواز لرل (چې د اعتبار نېټه یې پای ته نه وي رسېدلې).

۴. د معتبر ضمانت درلودل (غیرمنقول جایداد چې شرعي قباله ولري) .

**اړین مهارتونه:**

۵. د هېواد له رسمي ژبو په یوې پوهېدل ( پشتو یا دری ) .

۶. د دندې ترسره کولو لپاره وړتیا درلودل.